رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو څه يادونه وکړه، بيا يې وفرمايل: « دا به هغه مهال وي چې علم له منځه لاړ شي

له زياد بن لبيد رضي الله عنه څخه روايت دى هغه ويلي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو څه يادونه وکړه، بيا يې وفرمايل: « دا به هغه مهال وي چې علم له منځه لاړ شي» ما وويل: اې د الله تعالى رسوله! علم به څنګه له منځه ځي، حال دا چې مونږ قرآن لولو او خپلو زامنو ته يې لولو، او زمونږ زامن يې خپلو زامنو ته لولي او - دا لړ به - د قيامت تر ورځې پورې جاري وي؟ هغه وفرمايل: مور دې درباندې بوره شي اې زياده، ما خو ته د مديني تر ټولو زيات پوه انسان ګڼلې، آيا يهود او نصارا تورات او انجيل نه لولي، حال دا چې څه په هغوى - دواړو - کې دي په هيڅ شي يې عمل نه کوي ؟!».

[صحيح لغيره] [ابن ماجه روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو اصحابو په منځ کې ناست و، نو ويې فرمايل: دا هغه وخت دى چې علم پکې له خلکو څخه اخيستل کيږي، نو زياد بن لبيد انصارى رضي الله عنه حيران شو او له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې پوښتنه وکړه! ويې ويل: څرنګه به علم له مونږ څخه پورته او ورک شي؟! حال دا چې مونږ قرآن لوستلى او حفظ کړى دى، په الله قسم چې مونږ به يې ولولو، او خپلو ښځو، ماشومانو او د زامنو اولادونو ته به يې وښايو. رسول الله صلى الله عليه وسلم په حيرانتيا سره وفرمايل: ستا مور دې پر تا بوره شي زياده! ما ته د مديني د خلکو په علماوو کې شمارلې! بيا ورته رسول الله صلى الله عليه وسلم واضحه کړه چې : د علم ورکېدل د قرآن د ورکېدلو په - معنا - نده، مګر علم په نه عمل کولو سره ورک کيږي او له منځه ځي. دا تورات او انجيل د يهودانو او مسيحيانو سره دي؛ خو بيا يې هم ورته ګټه نده رسولې، او د دواړو له مقصد څخه يې ګټه نده پورته کړې؛ چې هغه په علم باندې عمل کول دي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65045